انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۲/۱۶

# افغانستان

## د نړیوالی دوستی د مرکز په توګه!

دیوی یوی نیمی پیړی نه ډیر وخت کیږی چی د افغانستان خاوره د خپل جیوپولیتیک موفعیت له پلوه د نړی د لویو قوتونو تر منځ د زور ازمایلو د ډګر او میدان په توګه کارول شوی ده. په دی توله موده کی د دی ستروقوتونو د تخاصم ستره صدمه افغان ولس ته رسیدلی ده او د دی ولس انسان یی د ژوندانه په ټولو اړخونو کی د رنګا رنګ ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړی دی.

په ۱۹ سم پیړئ کی د افغانانو خاوره د انګریزی نړیوال استعمار او د روس د تیری کونکی او پراختیا غوښتونکی سیاست تر منځ داسی د ستری تباهی سره مخامخ شوه چی د دی وطن په وجود لګیدلی ټپونه لا تر اوسه نه دی رغیدلی او سرطانی بڼه یی غوره کړیده. د دی دواړو متجاوزو قوتونو د نه مخامخ کیدو د پاره د افغان د وجود نه د دواړو د ګزارونو د پاره د سپر په توګه ګټه اوچته شوه او نتیجه هم دا شوه چی د افغان د خاوری یوه پراخه برخه په شمال کی د روسی استعمار له خوا او په جبوب کی تقریباً د موجوده افغانستان د مساحت په اندازه د انګریزی استعمار پوری و تړله شوه. کله چی روسیه کی سوسیالیستی دکتاتوری نظام قایم شو او وروسته د نړیوالی عمومی جګړی نه وروسته انګریز د هندوستان له نیمی وچی نه وتلو ته مجبور شو، نو بیا تر هغه وخته چی روسانو د بل وار د پاره په افغانستان د وسله والی تیری پلان نه و جوړ کړی، د دی هیواد انسان د غربت سره سره نسبتاً د ارام سا واخستله. خو دا ارامی ډیره اوږده نه وه، کله چی په افغانستان باندی د وخت شوروی اتحاد (روسانو) وسله وال تیر و کړ او د افغانستان آزادی یی د سوال لاندی را ستله، ورسره سم د دنیا بل زبر ځواک یعنی د امریکا متحده ایالاتو په ویتنام کی د خپلی ماتی د غچ اخستلو پرګرام د وخت د جمهور رئیس د معاون بریژنسکی د دکتورینو پر بنیاد د لاس لاندی ونیو او د افغانستان جغرافیه یوځل بیا د وخت د شوروی اتحاد د مستقیمو او د امریکا د متحده ایالاتو د غیری مستقیمو حملو او ګزارونو لاندی راغله. د دی دواړو هیوادونو تر منځ د، د دنیا ترټولو دزیاتو وسلو د استعمال، د میلیونونو انسانانو د مرګ ژوبلی، د یوه لوی هیواد د بیخی او مطلقی خرابی او بربادئ د لسو کالو نه اوږدی جګړی پایله دا رو ووتله چی د شوروی ابر قدرت له پښو ولوید، را نسکور شو او د دی هیواد خلک د جګړه مارو قوتونو په ذریعه د ګاونډیو هیوادونو د پلان سره سم د یرغمل په توګه پاتی شول. د شوروی له ماتیدو وروسته دی هیواد ته پام د متحده ایالاتو د لومړیتوبونو نه ووت او په لنډ وخت کی دا هیواد د کورنیو جګړو په داسی لمبو کی و سوځیده چی بلاخره تاو یی تر

نیویارکه و رسیده او د متحده ایالاتو ویده زبر ځواک یی د بل وار د پاره راویښ کړ او بیایی دا هیواد او په دی هیواد پوری تړلو پیښنو د متحده ایالاتو د دولت د لمړیتوبونو په لست کی ور داخل کړ.

دا داسی وخت و چی ټول هغه اسلامی قوتونه چی یو وخت د امریکا دولت د شوروی اتحاد (روسانو) په وړاندی د خپلو دوستانو په توګه کارول تقریباً په مجموع کی د دوی په ضد را پاریدلی و او هغه خطر چی روسان یی تهدید کړی وو دوی ته هم متوجه کړی و. امریکا د نیویارک د بدی پیښی نه وروسته د خپلو پخوانیو دوستانو او نوو دښمنانو د زپلو د پاره په ظاهره کی د ملګرو ملتو په مشوره خو په حقیقت کی د شنه زور په استعمال سره د خپلو ټولو انډیوالانو او سیاسی متحدینو سره یوځای افغانستان ته ننوتل او دا شپاړس کاله کیږی چی د بیلیو نونو ډالرو په لګښت، د زرګونو نظامیانو په مرګ ژوبله او په نړیواله سویه د بی اعتمادی سره د مخامخ کیدو سره سره یی بیاهم و نه شو کولی چی د هغه خطر په رفع کیدو کی چی دوی ورته د تروریزم نوم ورکړی یوڅپک قدری هم مخ ته لاړ شی بلکی دا خطر یی نوری غربی نړۍ ته هم ور نقل کړ او نړیوالی اندیښنی یی را وزیږولی.

د افغانستان د پیښنو سره سم په عربی نړۍ کی هم داسی پیښی را منځ ته شوی چی د متحده ایالاتو د ګټو د پاره یی نوی خطرونه پیدا کړل او دا هیواد یی دی ته را کش کړ چی په هره پیڅکه او کونج و کنار کی نظامی حضور ولری. دوی هڅه وکړه چی په هره سیمه کی د مداخلی سره یوځای د خپلی دموکراسی ګوډی هم د ځان سره یوسی او زیار یی و ویست چی د سوونو حتی زرونو ملیونو ډالرو په لګښت ، د هرډول وسلو په استعمال سره نوی لاس پوڅی رژیمونه د دی هیوادونو په خلکو تحمیل کاندی خو نتیجه یی تردی دمه کاملاً منفی او د یوی سیمی خلکو ته هم د منلو وړنه ده. د دی ناکامی علتونه به زیات وی خو زما په نظر تر ټولو لوی علت یی دادی چی هره بشری ټولنه ( زمونږ د افغانی ټولنی په شول) ځنی داسی کودونه او دودونه لری چی د هغی نه بیرون هیڅ شی وربادی کار نه شی کولی او هره هله ځله چی د دی کودونو نه د باندی وی د نورو ستونزو د را پیدا کیدو سبب هم جوړیږی.

اوس چی د دومره کشمکشونو نه وروسته نه القاعده ماته شوه، نه طالبان مات شول، نه نور اسلامی افراطی ډلی ماتی شوی، نه تروریستی حملی کمی شوی، بلکی د هری ورځی په تیریدو سره نوی ډلی لکه داعش او په لسکونو نوری راپیدا شوی نو په کار ده چی د متحده ایالات او دهغه نور غربی انډیوالان د نوو لارو د میندلو په لټه کی شی ترڅو دوی هم ځانته یوه د وړو پوزه کیدی.

د دی مصنوعی پوزی د ایښدلو د پاره زما په اند د روسی د جمهوررئیس و لادمیرپوتین هغه نوی پالیسی چی د تیری پنجشنبی په ورځ د ډسمبر د میاشتی په (۱۴) سم نیټه یی، په افغانستان کی د تروریزم سره د مبارزی په برخه کی په دی توګه اعلان کړله چی : « ماسکو حاضردی چی په افغانستان کی د افغان د دولت په ملاتړ د تروریزم په مقابله کی د واشنګټن سره همکاری او ګډ کار وکړی»، یوه له هغو اساسی لارو او میتودونو څخه ده چی هم به د افغانستان روانه معضله کی مثبت رول و لوبوی او هم به دا نوی تجربه سرته ورسوی چی :

**د افغانانو خاوره که د لویو قدرتونو تر منځ د دښمنی او مخاصمت د پاره استعمالیدلی شی، همدا ملک او همدا ملت د دی وړتیا هم لری چی همدا لوی قوتونه او زبر ځواکونه لکه د دوه نورمالو انسانانو په توګه یو بل ته سره ورنژدی هم کړای شی، د دښمنی پرځای دوی یو د بل دوست هم جوړولی شی او هغه د علامه اقبال لاهوری خبره چی« د افغان په ارامی او قراری کی د ټولی اسیا قرار نغښتی دی» هم په اثبات رسولی شی.**

اوس د افغانستان خلک او نړیوال دی ته انتظار دی چی و پوهیږی چی واشنګټن په افغانستان کی د معضلی د پای ته رسیدو سره له یوی خوا او په نړۍ کی د سوله ایز ژوندانه د جوړیدو سره له بلی خوا څومره علاقه لری او څومره دی ته ژمن دی چی په نړۍ کی انسانی اصول تطبیق او یوه بی جنجاله نړۍ جوړه شی. ۲۰۱۷/۱۲/۱۵

**پای**